# بېشکه چې الله تعالی هېڅ عمل نه قبلوي، مګر هغه چې خاص د هغه لپاره وي او د هغه رضایت پرې غوښتل شوي وي

له ابو امامة الباهلي رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی او ورته یې وویل چې د هغه چا په اړه خبر راکړه چې جهاد ته د ثواب او ستاینې لپاره وځي، آیا اجر ورته شته؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «هېڅ شی ورته نشته» (هغه سړي دا پوښتنه) درې ځلې تکرار کړه، او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ویل چې «هېڅ شی ورته نشته» بیا یې وویل: « بېشکه چې الله تعالی هېڅ عمل نه قبلوي، مګر هغه چې خاص د هغه لپاره وي او د هغه رضایت پرې غوښتل شوي وي»

[صحيح دی] [النسائي روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی او د هغه چا په اړه یې ترې پوښتنه وکړه چې غزا او جهاد ته د دې لپاره وځي چې د الله تعالی نه اجر غواړي او لیوالتیا لري چې ستاینه یې وشي او خلک پرې ښه ووایي، نو آیا د ده لپاره اجر شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې وفرمایل: هغه ته هېڅ اجر نشته، ځکه چې په نیت کې یې د الله تعالی سره بل څوک شریک کړی، نو هغه سړي درې ځلې خپله پوښتنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وکړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ځواب ورکړ او په خپل ځواب یې ټینګار وکړ؛ چې هغه ته هېڅ اجر نشته، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی په وړاندې د عمل د قبلېدو له قاعدې څخه خبر کړ چې: الله تعالی هېڅ عمل نه قبلوي مګر دا چې ټول د هغه لپاره وي، پرته له دې چې بل څوک په کې شریک کړي، او دا چې باید د الله تعالی د رضا لپاره وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65107